## افغانستان:  ورک شوی خپلوان پیدا کړی

طالبانو د ۲۰۲۱ په اګست کې د دولتي ځواکونو له سقوط او د ولسمشر اشرف غني بهر ته تېښتې وروسته د هېواد واک په لاس کې واخیست. افغانستان د طالبانو واک ته له راستنېدو وروسته د وسله والو شخړو دوامداره پړوا او د تاوتریخوالي د بیا راپورته کېدو سره مخ دی.

په داسي وخت کې چي په زرګونو افغانان ځانونه د خپلو کورنیو، خپلو نږدو او یادونو څخه تېښتې ته اړ باسي ، د فرانسي سره صلیب دفتر د افغانانو د وتلو له پیل راهیسې په فعاله توګه کار کوي ترڅو د دوی اړتیاو پوره کړی.

که تاسو د خپلو کورنیو سره اړیکه نلری یا د افغانستان اوسني وضعیت له امله ستاسو د کورنی څخه خبر نه لرئ ، د فرانسوي سره صلیب د کورنی اړیکي بیا رغونه خدمات(RLF) ممکن تاسو سره مرسته وکړي.

**تاسو کولی شی مونږ سره په اړیکه شئ:**

- د ایمیل له لاری :recherches@croix-rouge.fr
- د ټیلیفون له لاری : ۰۱۴۴۴۳۱۲۶۰ د دوشنبې څخه تر جمعی پورې  له ۱۰ -۱۲ او د ۱۴بجو -۱۸ بجو

**د نورو غوښتونو لپاره تاسو کولی شی:**

د فرانسي د اروپا او بهرنیو چارو وزارت د بحران او ملاتړ مرکز سره اړیکه ونیسئ

- ۰۰۳۳۱۵۳۵۹۱۱۱۰:   / **alertes.cdc@diplomatie.gouv.fr**
- دغو معلوماتی ویب پاڼو ته لاړ شئ : ; Association Watizat : https://watizat.org/

Gisti *Information aux Afghanes et Afghans souhaitant se réfugier en France*

**په افغانستان کې د خپلوانو سره د اړیکه نیولو یا موندلو څرنګوالی**

د دې بشري ماموریت د یوې برخې په توګه ، د فرانسي سره صلیب ، د کورنی اړیکو بیا رغولو لپاره د خپل خدمات له لاری ، د خپلو اړیکه ساتنه او څېړني فعالیتونه پیاوړي کوي ترڅو د خپلو کورنیو څخه جلا شوي افغانانو اړتیاوې پوره کړي.

- **ایا تاسو غواړئ په افغانستان یا ګاونډیو هیوادونو کې د خپلو کورنیو سره په اړیکه کې پاتې شئ؟** موږ کولی شو د امکان تر حده د هغو خلکو تلیفون اړیکي اسانه کړو چې پدې وروستیو کې ایستل شوي یا دمخه په فرانسه کې شتون لري.
کله چې د ارتباط ټولي نوري لارې پای ته ورسي، مونږ کولی شو په مستقیم ډول له خلکو څخه شفاهي یا لیکلي پیغامونه هم راټول کړو او د امکان په صورت کې یې ژر تر ژره واستوو.

- **ایا تاسو د خپلو هغو کورنیو په لټه کې یاست چې د اوسني بحران له امله د جلا شوی دی؟** د لټون غوښتنې ثبت کیدی شي او د پروسس لپاره به وړاندې شي.

- **ایا تاسو د خپلو هغو کورنیو په لټه کې یاست چې د اوسني بحران دمخه تاسو څخه جلا شوی وو؟** په افغانستان کې دا پروسه په موقت ډول ځنډول شوي مګر دا لاهم امکان لري چې د لټون نوي غوښتنه ثبت کړي چې څومره ژر چې وضعیت اجازه ورکړي پروسس کیږي.

- **ستاسو د لټون غوښتنه لا دمخه ثبت شوې ده؟** موږ دې پروسې ته دوام ورکوو ، مګر د اوږدې مودې چوکاټونو کې.

د RFL خدمات په تدریجي ډول ټولو اړوندو کسانو ته خبر ورکوي.

د آنلاین لټون سایټ **Trace the Face** د جلا شویو کورنیو  موندلی  لپاره کارول کیږي. د خپلو کورنیو د لټولو لپاره په دغه ویب پاڼه کې دري او پښتو ژبو کارولو په موخه دلته (ici.) کلیک وکړئ.

په دغو ټولو حالتونو کې ، مهرباني وکړئ د کورنۍ اړیکو بیارغونې خدماتو سره اړیکه ونیسئ:

- بریښنالیک : recherches@croix-rouge.fr
- ټیلیفون : ۰۱۴۴۴۳۱۲۶۰ له دوشنبې څخه تر جمعې پورې له ۱۰ -۱۲ او د ۱۴بجو -۱۸ بجو

**د وضعیت بدلیدو سره دا معلومات په منظم ډول تازه کیږي**